احمد جان مانو ۲۰۱۱/۱۰/۱۳

# بودا

اوس ددی وخت رارسیدلی دی چې، د اصلي آریایي ژبی (آریک/ پشه یي) په ژبه کی دننه د (بودا) نوم د هغي د تاریخي ارزښت له مخی چې، د نړی په دیني تاریخ او نړیوالو زړو ادیانو په لړ کي خپل ځا نګړی ځای لري تر بحث او څیړني لاندی راولو، له هر څه دمخه دا باید وګورو او څرګنده یي کړو چې، ایا دا لرغونی تاریخي د (بودا) نوم د ژبی د ادبیاتو له مخې، کوم چې، په خپل وخت کی رامینځته شویدی، په هغه وخت کی کومه ژبه ژوندی وه اودا ځانته جوته کړو اودا هم په ډاګه کړو چې، نومورې نوم له کومي ژبي څخه راوتلی دی او په هغه وخت کی کومه ژبه حاکمه او د بودیزم ددیانت ژبه وه او تر ټولو مهمه خبره داده چې، د (بودا) دنامه مانا څه ده؟ او په کومه ژبه کي ژوندی دی ؟

د(بودا) نوم په پشه یي (اریک) ژبه کی یو ژوندی نوم دی چې، د بودیزم د رامینځته کیدو له مخه دا په ډاګه کیږي چې، نومورې ژبه ژوندی وه، دا ځکه چې د بودا نوم د پشه یی ژبي نوم دی چې، تر ننه پورې دا نوم په پشه یي ژبه کی ژوندی دی. زما ددغي ادعا ښه ثبوت زما لاندینۍ توضیح او تشریح ده، غواړم نومورې نوم یو دبل پسی په لاندینیو کرښو کی څرګند کړم.

## لومړی

بودا:- دا نوم په پشه یي ژبه کي له دوو برخو د (بُو) د (و) د توري په پیښ د (ډیر/ بسیار) په مانا او د (دا) دبرخی څخه جوړ شویدی چې،د (دا) برخه يي په پشه یي ژبه کی د (دیک/ ورکول/دادن) له مصدر څخه چې،په لاند ی ډول سره یي ګردان تر سره کیږي او د (دا )برخه د مفرد مخاطب د حال زماني فعل دی په لاس راځي ،لاندیني ګردان ته خپل پام ور اړوو:

| پشه یي | پښتو/دري | دیک/ ورکول/ دادن |
|---|---|---|
| آ | زه /من | دیم / ورکوم / میدهم |
| تُو | ته /تو | دیی (دا) /ورکوې / میدهي |
| سی | هغه /اُو | دیګا / ورکوي / میدهد |
| آمو | مونږ / ما | دیس / ورکوو / میدهیم |
| ایمو | تاسو /شما | دیدا /ورکوئ /میدهید |
| تي | هغوی /انها | دیین (دین) /ورکوي /میدهند |

اوس چې، مونږ په نومورې ګردان کی د (بودا) دنامه دوهمه برخه د (دا) فعل د مفرد مخاطب په صیغه کي تر لاسه کړ او پرې و پوهیدو چې، د (دا )فعل په پښتو او دري ژبو کی د (ورکوې / میدهي) مانا افاده کوي ،نو اوس که مونږ د پشه یي ژبی د (بُو/ډیر /بسیار)اود ( دا / ورکوې /میدهي) په لاس راغلي دواړه برخي سره یو ځای ولیکو دالاندی شکل او مانا په لاس راځي ( بُو +دا / بُودا )او مانا ی کیږي (ډیر ورکوې) یا (ډیر ورکوونکی) چې، نومورې په لاس راغلي مانا د (بودا ) دنامه سره چې، د خپل وخت پیغمبردی ډیر ښه ښکلی لګوي دا په دی مانا چې، پیغمبران د خپل عصر او زمان بشر ته لارښوودونکي او ښوونکي دي مانا دا چې، نومورې د بشر لپاره د خدای پاک اوامر ور رسوي او هغوی د خدای د غوښتني څخه د (امر او نهی ) څخه خبروي چې، موخه یي(کول او نه کول) دي ورښیي، نو اوس دنومورې نامه (بودا) څخه چې، په پشه يي ژبه کی یي مانا څرګنده شوه او نومورې نوم نیغ په نیغه د پشه یي ژبي د ادب پورې اړه لري ،نو اوس دا په ډاګه ویلی شو چې، د (بودا) نوم د پشه یي ژبي یو ترکیبي نوم او د پشه یي ژبی د دوو کلمو څخه په ګډه سره په لاس راځي اود ادبی پلوه ورته (لوی او ستر لارښوود ) ویلي شو .

## دوهم

د لومړی توضیح څخه برسیره په پشه یي ژبه کی د (بودا) دنامه په اړوند یو بل زړه پورې ترکیب په پشه یي ژبه کی شتون لري چې،شننه او څیړنه به یي د هندو اروپایي ژبو څیرونکو لپاره اړین او زړه پوری او پشه یي ژبی ویوونکولپاره به هم خورا اغیزمن ثابت اود دی ټکي توضیح به هم ورته عجیبه شانته ښکاره شي چې، د (بودا ) نوم څرنګ او ولی پشه یي دی ،که څه هم چې، د (بودا) دنامه لغوي مانا د (ډیر ورکوونکی) کیږي ،ددیني او ادبي پلوه یی


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مانا (لوی او ستر لاربښوود اود پوهی خاوند) کیدای شي، دا چی مونږ په دی ځای کی د (پوهي/دا نش/دانايي) د کلمی سره ځان مخامخ وينو ،نو ښايي چي، نوموړی د (پوهی/ دانش) کلمه په (اريک/ پښه يي) د اصلي اريايي ژبي له پلوه وڅیړو او ورته ښه ځیر شو چی ، د (بودا )د نامه د (بو) د (بُ) دتوري په (پیښ) سره او دوهمه برخه يي چی، د (ودا) برخه ده یو د بل پسی يي شاربو او دا ځانته په ډاګه کوو چی د (بودا) د نامه لومړئ او دوهمه برخه چی، د (بوُ) او د (ودا) برخي چی د (بوُدا) تاريخي او د خپل د تاريخ د دوران د یوه ستر (دين) نوم دی په منطقي اوعلمی او ادبي ډول سره يي په لرغوني اريايي ژبه (پښه يي) کي تر لاسه کوو، ددغی ادعا د ثبوت او بربنډ وولو لپاره د (بودا )د نامه دواړه برخی د (بُو ) اود (ودا) نومونه سره څیړو، دا چی په لومړئ برخه کی د (بُ /بُو) نوم ماناموو د (ډير) په نامه سره مانا او ځیرلی دی بيايي تشريح او شننی ته ا ړتيا نشته نيغ په نيغه يی د (ډير/بسيار) په مانا پيژنو او د اړتيا په وخت کی يي د (ډير/ بسيار) کلمه په کاروو. اوس به راشو د (بودا) دنامه د (ودا) برخي ته چی د نوموړي نامه دوهمه او مهمه برخه جوړوي ګورووبی.

دريم

د (بودا) دنامه دوهمه برخه چی، د (ودا) کلمه ده د پښه يي ژبي په ادبياتو کی يي څیړو ،نوموړی نوم په پښه يي ژبه کی د (وُد يک /ذده کول ،پوهيدل/ياد ګرفتن /دانش) مانا لری ددی کار لپاره ښايي چی له هر څه څخه د مخه د (وُديک) مصدر ګردان کړو تر څو مونږ د بحث وړ کلمه (ودا) د (بُودا ) دنامه دوهمه او وروستني برخه تر لاسه کړو، په دی ځای کی(وديک /ذده کول /پوهيد ل) مصدر ګردانوم.

| | | |
|---|---|---|
| وُديک /ذده کول/پوهيدل/فهميد ن/دانستن | | |
| ذده کوم /می فهمم | | زه /من وديم/ |
| تو | ته/تو | وديي/ذده کوي /می اموزی |
| سی | هغه/ او | وديګا ( ودا) /ذده کوي/ می اموزد |
| امو | مونږ/ما | ودیس /ذده کوو /می اموزيم |
| ايمو | تا سی /شما | وديدا /می امو |
| تی | هغوی /انها | ودين /می اموزند |

د (ودا) کلمه په پښه يي ژبه کی د (پوهی /علم /دانايي) مانا لری.
د نوموړي مصدر دمفرد غايب د صيغی د(سی/هغه ) د په لاس راغلي د (ودا) کلمه په پښه يي ژبه کی د (پوهی/ دانش) مانا لري چی، دا په لاس راغلی نوم (ودا /وده) په پښه يي ژبه، پښتو او دري ژبو کي دا يوه څرګنده کلمه ده او د نوموړو ژبو ويوونکي په دی ښه پوهيږي چی، د (وُدا) کلمه ددويو د ژبو ژوندئ کلمه ده او دا کلمه تل په هغه وخت کی په کاروي چی،کله که يو څوک سپی، لړم يا مار يا نور داسي ډول حيواناتو يا خزنده وو داړلی يا يي چيچلی وي نو سمدلاسه يي په فکر کي هغه څوک راګرځي چی، د چيچونکو او داړونکو موجوداتو (وده /ودا) ورسره وي يعنی د داړونکو او چيچونکو وروسته يي مرستی ته اړتيا وي چی، معمولاً دکلي کور ملا صاحب يا په افغاني اصطلاح پاډوګر ته ځان وررسوی تر څو يي ورته دم کړی او د متضرر انسان ته په زړه کی تسلاً او ارام را پيدا شي په لوړو پيښو کی نيغ په نيغه د مرسته کوونکي په فکر او خيال کی د (ودی/ ودا/وده) کلمه په ذهن کی راګرځي او هغه زر تر زره د مشخص کس ته چی د نوموړوشيانو دم او دعا (ودا/ وده) ورسره وي ورته ورځي تر څو ورسره مرسته وشي، له دغوو توضيحاتو څخه دا په ډاګه کيږي چی، د (بودا) د نامه دوهمه برخه (ودا) د پښه يي ژبي کلمه او په پښتو کی ورته (پوهه) او په (دري) کي ورته (دانش) وايي نو د لوړی توضيح څخه دا په ډاګه کيږي چی، د (بودا) دنامه دوهمه برخه د (پوهی/دانش) او لومړئ برخه يي چی، د (بُو/ډير/بسيار) کلمه ده او په ګډه ورڅخه دا لاند ی شکل لاس ته راځي.

( بُ + ودا / بُودا )
(بُو / ډير/ زيات + ودا /پوهه)
د لوړو توضيحاتو او شننو څخه دا لاندی اشکال په لاس راځي:
بُ + ودا / بُودا
ډير +پوه / ډير پوه
د نوموړو برخو د يو ځای کيدو څخه مونږ د (بُودا) او د (ډير پوه) ترکيبونه تر لاسه کوو.
( بُودا /ډير پوه) يا د (ډيری پوهی خاوند) يا د( لوړي پوهی خاوند) تر لاسه کيږی.
د لوړی شننی څخه دا په ډاګه شوه چی د (بُودا نوم د پښه يي ژبي اصلي آريايي ژبي (اريک/ پښه يي ) پور ی اړوند نوم دی.
دا چی، (بودا) د خپل عصر اوزمان ستر پيغمبر تير شويدی اوتر ننه پوری بوديزم د يوه ستر دين په توګه په نړی کی شتون لری او په لويه کچه سره په دی خاورينه نړی کی د (بودا) ددين پيروان په خپل دين او ديانت وياړي نو دا په ډاګه


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولـئ

سره ویلی شو چی، د پښه یې ژبې د (بودا) دنامه د (پوهی/دانش) دنامه مانا او (پوهه) د (بُودا) د پیغمبری سره ښه څنګ لګوې او ورسره ډېر ښه ښکاري، پرته له شک او هیڅ ډول تردید څخه د (پوهی) نوم د ټولو پیغمبرانو یو ویاړلی صفت او د ستر توب نخښه ده او له هر څه څخه مخکی دا د لوی څښتن تعالی یوه ځانګړې ډالۍ ده په دی خاورینه نړۍ کې خپلونازولو پیغمبرانواو د بشر د ښوونکو لپاره.

یادونه :

د لوړې توضیح او تشریح څخه موخه دا ده چی، د هندو اروپایې ژبو څېړونکو او د نوموړې (اریک/پښه یې) ژبې د نظر خاوندانو ته دا په ډاګه شي چی، اصلې اریایې ژبې (اریک /پښه یې) ژوند د میلاد څخه پنځه، پنځه نیم سوه کاله د مخه د (بودیزم) په زمانه کی (اریک /پښه یې) لا یوه ژوندۍ او د بودیزم د دیانت د زمانۍ د بحث وړ ژبه وه او د هندو اروپایې ژبو څېړونکو هغه نظریه چی، ګویا اصلي اریایې ژبه د میلاد څخه پوره څوارلس سوه کاله له مخه مړه شویده نادرست ثابتوې دا څکه چی، دا ژبه لا تر بودیزم پوری یوه ژوندی او د بودایانو د دین د زکراو لوی خدای ته د زاری او عبادت ژبه وه، د دغی کار د لا ښه څرګندیدو په خاطر به یوه بله خورا زړه پوری لیکنه علاقمندانو او د پښه یې ژبی ویوونکو او د هندو اروپای ژبو پوهانو او ښاغلو څېړونکو ته وړاندی شې چی، د نوموړې ژبې په څېړنه کی له سره نوې هلې ځلې او کار پیل کړی او پښه یان د خپلی مورنۍ ژبې له سترتوب او عظمت څخه خبر، اګاه او پری وویاړي او د خپلې مورنۍ ژبې دلا ډېر چوپړ او پرمختګ لپاره لستوڼي را ونغاړي او خپلې ملاګاني ټینګی او کلکی وتړې او ورته کار وکړې تر څو د تیر تاریخ تورتم ګوډونه او کونجونه په خپلو هلو ځلو سره روښانه اوورنوې او د هندو اروپایې ژبو څېړونکو د لا تشویق او ترغیب لپاره لاره حواره او جوړه کړي تر څو هغوی د خپلو علمې او تخنیکې امکا ناتو په مرسته اصلې اریایې ژبی (اریک / پښه یې ) ته او خپلو ژبود پرمختګ لپاره نوۍ هلې ځلې پیل کړې.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ